د عادلانه **استوګنځي قانون** یو فدرالي قانون دی چې ستاسو له حقونو څخه ساتنه کوي تر څو:

- استوګنځی د خپل بیې په محدوده کې له توپیري چلند پرته **وپلټئ**
- **د ژوند لپاره یو کور یا ګاونډ انتخاب کړئ** چې په هغې کې هیڅ ډول محدودیتونه او امرونه نه وي
- **په مساویانه توګه** د استوګنځي، د کو ر د پورونو، ارزونو یا بیمي فرصت ولرئ
- د خپل استوګنځي اړوند برابر **شرایط، مقررات** او خدمتونه ترلاسه کړئ
- **که چېرې تاسویو** معلولیت لرونکی کس یاست، تاسو د دې حق لرئ تر څو د اصولو، پالیسیو، **اقداماتو یا خدمتونو سره سم (له یو شمېر استثناتو پرته)** د معقول استوګنځي غوښتنه وکړئ
  **یا ستاسو د فزیکي اړخه** ستاسو د کور د لاسرسي وړ ګرځېدو
  لپاره د معقولو اصلاحاتو یا سمونو غوښتنه وکړئ
- **ستاسو** د عادلانه استوګنځي د حقونو څخه د برخمن کېدو لپاره له هر ډول ځورونې او ویرې څخه خلاصون.

**همدارز ښاروونه او ښارګوټي باید د رغونې**، موقعیت موندلو او په ګاونډ کې د استوګنځي د پراختیا او پلان کولو لپاره د عادلانه استوګنځي قوانین رعایت کړي. سیمه ییز حکومتونه د استوګنځي د ډول او مجازي منطقه بندی په اړه پریکړه کوي او باید په فعالانه ډول د استوګنځي اړوند تفکیک او توپیري چلند د مخنیوي لپاره هڅه وکړي.

که چېرې تاسو فکر کوئ چې د استوګنځي په معامله کې له تاسو سره توپیري چلند ترسره شو یدی، نو له لاندې برخې سره اړیکه ونیسئ:

Northwest Fair Housing Alliance
25 W Main Ave., Suite 250
Spokane, WA 99201
509-325-2665
1-800-200– FAIR (3247)
فکس: 1-866-6308

NWFHA کولای شي تاسو ته د غوراوېو په برخه کې لارښوونه وکړي او ستاسو وکالت یا ملاتړ وکړي. زموږ خدمتونه وړیا دي. زموږ دفتر د لاسرسي وړ

هغه کار چې د دې خپرونې د بنسټ ایښودلو لپاره یې زمینه برابره کړه تر یوې کچې پورې د متحده ایالاتو د استوګنځي او ښاري پراختیا وزارت (HUD) د بلاعوضه مالي مرستو لخوا یې ملاتړ ترسره کیده. NWFHA په دې خپرونه کې یوازې د بیانیو او شاملو تشریحاتو مسوولیت په غاړه لري.
6/2022 –Pashto

# عادلانه استوګنځی څه شی دی؟



NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE

(509) 325-2665
1-800-200-FAIR (3247)
www.nwfairhouse.org

## د عادلانه استوګنځي قانون له تاسو څخه د استوګنځي په معاملاتو کې د لاندې مواردو پر بنسټ د توپيري چلند ترسره کېدو څخه ساتنه کوي:

نژاد
رنګ
ملي ريښه
دين
جنسيت / جنس
معلوليت
د کورنۍ حالت

دا "خوندي شوي ټولګي" بلل کېږي.

## که چېرې ستاسو د "خوندي شوي ټولګي" پر بنسټ ترسره شي، نو لاندې اقدامات غير قانوني ګڼل کېږي

- په تاسو باندې د پلورلو او کرايې ورکولو څخه ډډه وکړي
- د پلورلو يا په کرايې ورکولو په شرايطو، مقرراتو يا امتيازاتو په برخه کې ستاسو پر وړاندې توپيري چلند وکړي
- تاسو ته ووايي چې يو کور د پلور يا کرايې لپاره نشته دی، په داسې حال کې چې شته وي
- تاسو اړ کړي چې خپل کور وپلورئ يا يې په کرايه ورکړئ ځکه ګاونډ ته د بل نژاد، رنګ، ملي اصل او داسې نورو مواردو لرونکي خلک راځي.
- ستاسو د خوندي شوي ټولګي پر وړاندې له تبعيض ډک تبليغات يا بيانيې ترسره کړي.



## عادلانه استوګنځی له تاسو څخه ساتنه کوي کله چې تاسو:

پېرل



پور اخيستل



کرايه کول



بيمه کول



منطقه بندي

